# د پښتنوالي د لمر ځلښت په تاريخ کښي

د پښتنوالي روح، لکه لمر داسي دی، چي هر وخت په بريښ او ځلښت کښي وُ او دی. د پښتنوالي اخلاق او د پښتنو روحي او عقلي مزاج او ددوي معنوي جذبات او غرائز، د دوي سپېڅلي مشاعر داسي دي، چي هيڅ وخت ئې ځان نه دی پټ کړي، او پښتون ته ئې تاريخي لوړ توب اوشهرت هم بخښلی دی، په زړو آريانانو کښي تقريباً تر درو ترخلور زروکالو دمخه هم پښتنو شهرت درلود. د هندپه زاړه کتاب ريگويد کښي ددوي نوم په ښکته سره راغلي دی. (۳۵)

او په هغو لسو کامونو کښي شمېرل سويدي چي دوي دآريانانو زوړ تاريخي جنگ کړي وُ.

نينوس او سميلراميس د آشور شاهانو د خپل عظمت په وخت کښي هم پرباختر خپلي حملې کولې، اما ددې ځاي خلکو سخت جنگونه ورسره وکړه (۳۶). د آشور د ميخي خطو زاړه اثار چي پيدا سوي دي دابنئي چي ۱۱۰۰ کاله تر ميلاد دمخه يوآشوري بريالی تگالات فالازار

Tagalath Phalazar چـــي پــه دو څلويښتــو قبيلــو کښــي ارکوتــو (ارچوتوس)، هراهوتي او نيسع او نيساهم ذکر کوي مګر دغو قبـايلو دا فاتح بيوته مات کي، او ځان ئي آزاد کي. (۳۷)

ارکوتـو ( ارچوتـوس) خـو د يونانيـانو آرکوسـيا Arachosie يعنـي کندهار دی چي په پهلوي رخوت ؤ اوعربو رخج او رخد کړ (۳۸).

هراهوتي Harahuate چي په اوستا کښي هم راغلي، او پـه رګويـد کښي سوس وتي ذکر سوي دی، ارغنداو دی. (۳۹) امانيسع يـا نيسا غالباً اوسني نېش دی، چي دکندهار شمالي مغربي خواته کاين دی، او دزاړه مدنيت آثار هم پکښي ښکاريږي او مسعودي اسـلامي مـؤرخ (۳۳۲ ه) د بُست او داور اوِ رخج سـره يوځـاي د (نيـس) پـه ډول راوړي دی (۴۰) له دې څخه ښکاره سوه چي پښتانه پخواهم يو توريالی قوم ؤ، او د پرديو مريي توب يي نه مانه. هيرډوټس د يونان زوړ مؤرخ چي تـرميلاد دمخه ( ۴۲۵_ ۴۸۰) کاله اوسيدی پښتانه د "پاکتويس" Paktves پـه نامـه اود پښتنو اپريدي قبيله يي "اپاروتي" راوړې ده.

د مؤرخينو پلار هيرډوتس وايي : " هغه خلك چي د هند شـمال تـه د "پـاکتي ايکــي" پــه مملکــت کښــي پراتــه دي، دهســتوګي ډول ئــې دپاکتريانو (بلخيـانو) دی دوي خـورا توريـالي او جنګيـالي دي چــي د خشيارا شـا (۴۸۶_ ۴۶۵ هـ) هخامنشــي فــاتح ســره ؤ، او پوسـتينان ئـې اغوستي وه، لويي لويي د غشو لينـدی او خپلـي وطنـي چـړې (پېـش قبض) يې درلودي. (۴۱)

هلبرانټ Hellebrandir ليکي : "په رګ ويد کښي راغلي دي چــي په آراکوسيا (کندهار) کښي يوه قبيله ده چي "واسوديوا" ئي پاچـا اودده زوي "سوداس" ؤ دې قبيلې د سـندهـ تـر روده پـوري بـری ومونـد، او جنګي کارنامي ئې دافسانو او نقلو په ډول مشهوري وې (۴۲) تـر مـيلاد

دمخـه ( ۳۲۹_ ۳۲۷ هـ) چـي مقـدوني سـکندر د افغانسـتان پـر خـوا هندوستان ته تېرېدی پښتنو ددې بريالي سره خوراسـخته جګـړه وکـړه دکندهار خلکو دده سره جګړې وکړې د نورو پښتنو په غرو کښـي هـم سخت زحمتونه پر ورغله، د صوات په لته کښي د يونـان دا فـاتح چـي ټوله اشيا ئې نيولي وه ټپي هم سو(۴۳).

د سکندر سره د پښتنو مقابله خورا شهرت لري د پښتونخوا يو غر پـه يونانيانو کښي خـورا مشـهور دی، چـي د يونـان زوړ افسـانوي پهلـوان "هر کول" همدا غر نه ؤ نيولی، مګر سکندر پر دې غره يرغـل وکـي او پښتنو ډېر يونانيان پکښي مړه کړه.

سکندر په پاي کښي مجبور سو او له بيـري پرشاسـو، وروسـته چـي پښتنو دا ځاي تخليه کی نو سکندر ځيني تېر سـو يعنـي سـکندر پخپـل قوت پښتانه نه کړه مات.

آريان او کنټ کورث ددې غره قوم Arne (آرن) مګر يـو بـل مـؤرخ ډيوډوره ئې Arnas ليکي چي دا غر په تاريخ کښي "عجيـب غـر" بلـل سوی، چي دپښتنو د ميړاني په سبب چا نه سواي مسـخر کـولاي (۴۴).

او سکندر په خورا زحمت او داسي تلفاتو تر "پښتونخوا" تېر سو چي ډېر سپاهيان ئې مړه، او نور خورا په ستونزو سوي وه.

د ډيوډور مؤرخ په قول نوځکه سکندر د پښتنو له بيري بيرته هندتـه پرې خوانه راغی، ناچاره سو، چي دبحيره عرب پرخوا ځـان ايـران تـه ورسوي، او ډېر عسکر ئې د لوږي او تندي څخه دبلوچسـتان پـه ريګـو کښي مړه او په ۳۲۴ ق ، م کښي ئې ځان فهرج ته وسپاره، تقريبـاً درې کاله ئې د پښتنو له لاسه ناورينونه وليدل.

البر مالې مؤرخ ليکي : چي د پښتونخوا پـه خـاورو کښـي د يونـان سپاهيانو داسي بدي ورځي وليدې چي دوي به دا خيـال کـاوه چـي د

خپلو زړو پهلوانانو عملیات نوي کوي، دلته په دوي کښې هم چمونه وسوه، لکه دوه ویشت پیړۍ وروسته چې په دغه ځای کښې پر انگریزانو راغله. (۴۵)

له دغوتاریخي بیاناتو څخه ښه څرگندیږي چې پښتانه له پخوانوپیړیو څخه دغسې مستقل او آزاد او په ملیت مغرور او توریالي او گړندي وو، او د دوي د پښتنوالي روح په هغو وختو کښې هم ځلیدی، او شهرت ئې درلود چې ټولو مؤرخینو د دوي ښېگڼې ذکر کړي او دآریانانو په زړو کتابو کښې ئې نوم هم ذکر سویدی.

## د کریکو بودیک مدنیت

صنایع دهر مدنیت او هر ثقافت نمایندگي په ښه ډول کوي، حتې ډیر ځله پوهان د صنایعو څخه دمللو افکار او روحیات هم معلوموي په صنعت باندي، محیطي عوامل او سیاسي او تاریخي حوادث هم اغیزه کوي!

یو صنعت چې له یوه محیطه بل ته نقل سي په دې نوي محیط کښې نوی رنگ مومي، او ددې محیط پر تقاضا ځان سم کي، لکه دمخه چې مو وویل د سکندر د فتوحاتو په وخت په پښتونخوا کښې ډیر یونانیان پاته سوه، او چې سکندر ولاړ نودوي په باختر کښې یو سلطنت جوړ کي، دوي خپل یوناني ثقافت او مدنیت ورسره راوړي وه، وروسته ۶۰۰ کاله د میلاد دمخه د هندوستان د بودا دین هم دې خواته راغی، دا دوه مدنیته سره گډ سوه، د پښتنوروحي تجلیات وُ، چې دلته ئې یو تاریخي مدنیت چې نه د هند وُ نه د یونان ایجاد کی، دا مدنیت او صنعت چې د پښتونخوا د خلک قریحې او ددوي محیطي

اواجتماعي او روحي عواملو منځ ته راوړي وه، د اسلام تر راتلـو پـوري دلې وۀ، پـه باميـان، بـاختر کنـدوز، او دکابـل شـمالي خواوي،هـډه، پيښور، ټکسيلا، او د اټک ها خواته يې ډير ښه ښه آثار اوس هـم مونـدل کيږي. ددې صنعت نفوذ اوسنيو مؤرخينـو لکـه : هـاکن فرانسـوی، فوشه، جن مارشل انگليس، گوډار او نورو په ښه ډول پلټلـي دی (۴۵) او دا راښکاره کوي، چي د پښتنو تـاريخي عظمـت د صـنعت اوفکـر او فلسفې اوسياست لخوا هم خـوارتينک وۀ (۴۶). او اغېـزې ئـې پـه هنـد کښي تر کشميره پوري تللي وې، لکـه دکشـمير د ډورک او ټکسـېلا د اولي اونگ ستونونه چي دا اغيزې ښه ښکاره کوي (۴۷).

## د عربو او اسلام بري !

مور دمخه د پښتنو د روحياتو په بحث کښي وويل ، چـي دوي زاړه مبادي ښه ساتي او چي نوي مبادي ئې ومنل بيا ئې نو ژر پرېږدي !

د اسلام مقدس دين چي پښتنو ته راغی نو دوي لومړی د مسـلمانانو سره ډيري سختي مقابلې وکړې، مگر وروسته چي دوي دا مقدس دين قبول کي، نو ئي داسي فداکاري ورته وکړي چي يو لوي مملکت لکه هند، ددوي په توره د اسلام په دين مشرف سو. احمد بن يحيي بغدادي اسلامي مؤرخ چي په يلازري مشهور دی پـه (۲۵۵هـ) کښـي ليکـي : " دهجرت په (۳۰ م ) کال ربيع بن زياد بن انس حارثي د سيستان لخوا په هرمند او داور راغی او وروسته ئې بُست او زابل (کندهار) فتح کړ مگـر دسيستان د زرنج خلکو خپل اسلامي امير ايسـتلی وۀ، نـو حضـرت علـي (رض) بيرته دجمل تر جنگ وروسته ونيوي، د حضرت معاويه (رض) پـه عصر کښي بيا مسلمانانو هغه ځايونه ونيول، چي خلک ئـې لـه اسـلامه

بيرته اوښتي وه، کابل هم په دغو کښي ؤ، وروسته بيا د کابل باچا رتبيل مسلمانان وايستل مگر بيرته مسلمانانو کابل، بُست، رخج، داور ونيـول، د عبدالملک بن مروان ( ۶۵ـ۸۶ ه) په عصـر کښـي بيـا د رتبيـل سـره جنگونه وسوه، اودا خواوي له (۳۰) څخه بيا تر (۱۰۰ هـ) کالـه مسـلمانانو څو واره فتحه کړيدی (۴۸)."

په دې ډول پښتنو لومړی د مسلمانانو فـاتحينو سـره کلکـي مقـابلي وکړې، مگر وروسته چي د اسلام په پاک دين سوه نو بيائې دې دين ته ښې فداکاری وکړې هغه وخت چي د سندھ اسلامي فاتح محمد قاسـم د (۹۰ ه) کال په حدودو کښي ملتان او سندھ فتح کـول ددې اسـلامي بريالي سره پښتانه هم وه، اوپرهغه خوائې اسلام خپور کی (۴۹).

په (۳۷۵ ه) کښي د پښتنو لوديانو څخه يو بريالي شيخ حامد په ملتان کښي د سلطنت اساس کښود دې پښتون او دده کورنۍ تر ډيره پوري په پښتنواله خپله پاچهي وچلوله، او د هندوستان د راجگـانو څخـه ئـې ځان وساتی.

وروسته چي امير ناصر سبکتگين پـه (۳۶۷ هـ) کښـي د غزنـي پاچـا سو، پښتانه ددې باچا ملگري سوه او دې باچا هم د زابـل (کنـدهار) لـه پښتنو سره خپلوي وکړه، ځيني مؤرخين وايي چي دده په لښکر کښـي چي د هندوستان د حملو دفاع ئې کوله، دوه زره (۵۰) يا لس زره (۵۱) پښتانه وه (۵۲) د ملتان د لوديانوسره هم سـبکتگين د خپلـوۍ لـه امله دوستانه روابط درلوده.

تـر دې وروسـته د سـبکتگين زوي زابلـي محمـود چـي مـور ئـې دکندهار پښتنه وه د غزني شاهنشاهي لوړه کړه، پښتنو د خپل خـوريي سره ډير کومکونه وکړه (۵۳) د هندوسـتان لـوي فتوحـات او دبخـارا، ايران بری ټوله دپښتنو په توريالیتوب ؤ، يمينـي دغزنـوي عصـر مـؤرخ

وايي : "چي پښتانه د اجل په خبر يا د وړي زمري په ډول پر غليم ورتلله، پر كوتلو خاته لكه بريښنا په ځنګلو ننوتل، لكه هوسى پر غرو لوړېده، لكه سيل غرو كښي شيوه كېده (۵۴)".

يو پښتون د هندوستان په فتوحاتو كښي د پښتنو ميړانه په دې بيتو كښي په فخر او حماست بيانوي :

تركو نامردو داسي ودنګل له نام وننـــــګه
زه يو پښتون وم چي ولاړ وم د سلطان تر ځنګه

توره په لاس په سره اور د عرصـــــات وختم
دبُت شكن سره په دژد سومنات وختـــم (۵۵)

پښتانه مؤرخين د پښتنـو جنګـي مشـرانو او ملكـانو نومونـه، چـي د سلطان محمود په لښكر كښي وه بيانوي يو جنرال ئې خالو خـان ؤ، پـه دې لنډۍ كښي هم لـه ګوملـه ددې جنـرال د لښكـرو راتـګ ښـوول سويدي :

چي د خالو لښكري راسي !
زه به ګومل ته د خپل يار ديدن ته ځمه (۵۶)

دغه دپښتنـو كومـك ؤ، چـي د محمـود زوي مسـعود د ايـران پـه فتوحاتو كښي مؤفق او وروسته يې وغوښته چي ولاړ سـي، بغـداد هـم فتحه كي او د اسلامي خلافت مركز غزنـي تـه رانقـل كـي او غزنـوي شاهان د ايشيا او اسلام په پاچهي ومنل سي (۵۷).

تر غزنوي پاچهانو وروسـته د غـور پښتانـه بريـالي سـوه دوي هـم د پښتنوالي دروح په بركت ټوله هند فتح كـى، د غـوري سـلطان شـهاب الدين ميړاني د قطب الدين ايبک برياليتوب اوبيا په هند كښي د پښتنـو پاچهانو كارنامې تاريخ نه سي هيرولاي، دسوريانو پښتنو شاهي، خو پـه

هند کښي د عدالت او عظمت او مدنيت دوره وه، لـه شيرشـاه سـوري عمرانات او د ثقافت او تمدن خدمتونه د تاريخ په زرو ليکی تر اوسه هـم د هند په مختلفو رياستونو کښي ددغو پښتنو کورنۍ حکمراني لري.

د کورگانيانو په پـاچهي کښـي چـي لومړی پښتانـه دبـابر پـه ملاتـړ ودرېده، او هند ئـې ورسـره فـتح کـي وروسـته د ډهلـي کورگانيـانو وغوښته چي ددوي خپل فطري حق يعني ازادي، ځينـي سـلب کـي، مگر پښتنو خو مرييتوب نه مانه نو په دې دورو کښي پښتانه ټولـه پرخپلـه ننگه ولاړ وه چي تر پايه ئې خپله آزادي دلاسه ورنه کړه.

د پښتنو ملي پهلوان او نامتو سردار او اديب خوشـحال خـان ختـک ددې ملي جنگو سردار او د پښتنو ملـي اديبـانو د ختکـو کورنـی، او د مومندو توريااليو د پښتنوالي د استقلال غوښتنو روح ښه ښکاره کـی، او د کورگانيانو په خلاف ئې په خپل ملت کښي داسي تبليغات وکړه، چي په پاي کښي د پښتنو له مرييتوبه ناکامه سوه.

پخپله په افغانستان کښـي هـم پښتانـه دبـرم او جـلال خاونـدان وه، دهوتکو او مرحوم حاجي ميرويس خان مېرانه او دده دکورنۍ محمـود او اشرف فتوحات خو ښکاره دي.

بيا د نادر افشار په مقابل کښي د پښتنو ټينگار د پښتنوالي يـوه ننـداره وه، د هرات د ابداليانو جنگونه ددې فاتح سـره مشـهور دي ، يـو کـال دکندهار ښار محاصره وه، په دې بافشاري کښي د پښتـون شـاه حسـين او سيدال خان ناصر سپاه سالار مېرانه زموږ نه هيرېږي.

د هند له خوا چي نادر افشار بيرته راځي، دې فاتح له خپلو غنـايمو ساتني دپاره دخيبر پښتنو ته د لاري ججه ورکړه نوځيني راتېرسـو(۵۸) ځکه چي دده ته د پښتنو د توري بريښ ښه ښکاره وه.

تر نادر افشار وروسته چي اعليحضرت لوي احمدشاه بابا د پښتنوپاچا سونو دې ښاغلي پښتون د پښتنو د پښتنوالي لياقت او کشور کشايي ښه وچلوله، احمدشاه بابا د خپل ښاغلي پښتون ملت په ملګري او توره اوه اته واره پر هند يرغلونه وکړه، د هند مسلمانان ئې دکفارو له تسلطه وژغورل د مرهټو جنګ د هندوستان د لويو جنګو څخه دی، چي پينځوس ، شپيته زره پښتانه تقريباً لسو لکو تنو سره وجنګېدل ټوله ئې مات کړه، تر دوو لکو تنو پوري ئې مړه کړه، او د مرهټانو ملا ئې ورماته کړه (۵۹) اې مارسډن انګليسي مؤرخ وايي : " احمدشاه په اساني سره دډهلي پاچا سو، او لکه محمود غزنوي او محمد غوري څو واره ئې پښتانه په هندوستان راوبهول ... (۶۰)." کرانټ ډفه انګليسي مؤرخ ليکي : " دپاني پت جګړه د هندوستان دمهابهارت تر جګړې وروسته لو جګړه ده، په درو روځو کښي پښتنو لويه فتحه وګټله (۶۱)".

يو پښتو شاعر برهانخان چي په دې فتوحاتو کښي د احمدشاه بابا سره وُ ددې جنګ سببونه د پښتانه شهنشاه له خولي داسي بيانوي :

احمدشاه بادشاه په جارو ويـــــله
دغزا په نيت ووزمه لـــــــه کابله
يابه قتل کړم کفار په هندوستان کي
يابه پرې کړمه کله پرې باندي خپـله

په دې ډول احمدشاه بابا دپښتنوالي په ننګه هندوستان ته څو واري ولاړ او د خپلو اسلافو محمد او محمود ياد ئې تازه کي د پښتنو لويه لمن له دې ښه ښکاريږي، چي احمد شاه بابا که څه هم هند فتح کی، بخارا ئې ونيوله، پر خراسان ئې تسلط وموند، مګر په دغو سرو هيواد کښي ئې د هغه ځاي پاچهان بيرته په پاچهي کښېنوله، او پښتنوالی لوړ همت اوعالي جنابي ئې ثابته کړه، تر احمد شاهي دورې وروسته هم د

**پښتنوالي روح مړه نه وه، ډېر ځله ئې شا وخوا برېښ کاوه، وزیر اکبرخان غازي دکابل او جلال اباد جهادونه، او د سردار محمد ایوب خان غازي د میوند غزا او بیا دغازي محمد نادر شاه شهید د ټل او جنوبي خوا جهادونه نه هیروي.**

## ***نتیجه*** :

تر دې ځایه مو د پښتنوالي د ورځ ځیني روڼاوي او برېښناوي په تاریخي ادارو کښې ښکاره کړې، دا خو یوه لنډه تاریخي کتنه وه، که مو مفصل لیکلای نو د پښتنو د توري اواخلاقي اقتدار پرته ددوي مدني او عمراني او اداري خدمتونه هم ډېر دي چي لیکل ئې بیل بیل کتابونه غواړي ، په پښتوکښې علماء او د فن او پوهي خاوندان او بریالي شهنشاهان او نامتو دلاوران او پهلوانان تېر سویدي، لنډه خو ئې دا چي د پښتنوالي روح یو ژوندی او نه مړ کېدونکی روح دی چي نن ورځ پر پښتنو او ددې زماني پ ځلمو لازمه ده، چي خپل مفاخر او د پلرو او نیکو د پښتنوالي ښېگڼي را ژوندی کي، او د خپل ملیت په روڼ تاریخ وویاړي، ما دا څو کرښي د پښتنوالي په علمي پلټنه او سپړنه کښي اوس وکښلای سوې، اوخپلو پښتنو ته مي وړاندي کړې، گوندي د تیرو پښتنو اروا خوښ او د اوسنیو ځلمو لپاره د پښتنو دپښتنوالي درس وگرځي.(٦٢)

# لمن ليکونه


۱.
۲. عناصر اجتماع د بلاکمار، ص ۵۲ The Element of Sociology Blakomar
۳. سلالات انسان د ډنی کر ، Races –ofman. J. Denaker
۴. د ابن خلدون مقدمه، ص ۲۶
۵. تهذيب الاخلاق د علامه ابن مسکويه
۶. د اجتماع عناصر د بلاکمار
۷. د نقولا حداد علم الاجتماع، ج ۱ ، ص ۴۲ ، د مصر طبع
۸. نقولا حداد علم الاجتماع، ج ۱ ، ص ۵۲
۹. وگورئ د پښتنو تاريخونه، حيات خان او سلطاني او نور...
۱۰. د شرقي آريانانو تمدن، ج ۱، ص ۲۶۶
۱۱. دفريدريک سپيگل المانی زوړ ايران، د لايپزيک طبع، ۱۸۷۱ ع
۱۲. په پښتو "پردېس" له کوره ورک ته وايي، چي لـه پـردي دېـس خخه جوړ سوی دی.
۱۳. تمدن هند، ص ۱۸۷، د اگرې طبع ۱۹۱۳ ع
۱۴. رگويدا ۷ باب، ۶-۷ فقره
۱۵. د گوستاولوبون فرانسوي سرتطورالامم ص ۱۴
۱۶. د گوستاولوبون روح الاجتماع، ۱۹ ، ۴۰ مخ
۱۷. سر تطورالامم ص ۱۳
۱۸. د هنری مېکل د تمدن تاريخ ، ج ۲ ، ص ۲۰
۱۹. سر تطورالامم ، ص ۲۴، ۱۸
۲۰. د تورکو تاريخ

۲۱. د گوستاولوبون کلمات، ص ۲۶ ، ۳۰
۲۲. د آریانا تمدن ، ج ۱، ص ۶۵
۲۳. د تهران ستاره جهان، شماره ۱۱۰، د رحیم زاده صفوي لیک
۲۴. سر تطورالامم، ص ۳۹
۲۵. د اروپا د اولسونو روحیات، ص ۷۱
۲۶. فجر الاسلام، احمد امین، ص ۲۷
۲۷. تتمة البیان فی تاریخ الافغان، څلورم فصل
۲۸. شعر العجم ، ج ۵
۲۹. د خوشحال خان د کلیات مقدمه ، د کندهار طبع
۳۰. د مشرقي آریانانو تمدن، ص ۲۲۸ تر ۲۳۸ پوري وگورئ.
۳۱. د مشرقي آریانانو تمدن، ص ۲۲۸ تر ۲۳۸ پوري وگورئ.
۳۲. د گوستاولوبون کلمات، ص ۷۹
۳۳. د کابل سالنامه، ۱۳۱۷، د ښاغلي زمریالی لیک
۳۴. د پښتو شعر تاریخچه، لومړی مخونه
۳۵. د هندوستان تاریخ، د کیمبریج
۳۶. د ډوکتور گیگر المانی د شرقي آریانانو تمدن ص ۱۰۹
۳۷. د ډنکرد د زړو آثارو تاریخ، ج ۲ ، ص ۲۶۱ او د مسپرو تاریخ ص ۳۶۱
۳۸. د سیستان تاریخ
۳۹. د سرارل سټاین Aurelstin تحقیقات د لندن په یوه علمي ټولنه کښې، طلوع ۱۵ کال ۴ گڼه.
۴۰. مسعودي، مروج انوهب ، ج ۱ ، ص ۱۰۳
۴۱. د هیروډوتس تاریخ جلد اول ص ۲۶۰، ۲۶۸ او جلد دوم ص ۱۵۷، ۱۶۱

۴۲. د جناب يعقوب حسن خان ليک، د کابل سالنامه ۱۳۱۳ کال
۴۳. د کابل سالنامه د ۱۳۱۲ کال ، ص ۱۳۶
۴۴. تاريخ عمومي جلد اول ص ۴۰۴ د رضا اخـوی، حيـات خـان په حيات افغاني ص ۳۶ کښي دا غر اتک ته مخـامخ پـه مهـابڼ کښي ګڼي.
۴۵. د مشرقي ملتو او يونان تاريخ ص ۲۹۱
۴۶. د ګريکو بوديک صـنعت د موسـيو فوشـه فرانسـوی، ص ۴۰۰، ۴۴۴.
۴۷. د موسيو هاکن د باختر صنعت او د موسيو ګوډار او د موسـيو هاکن باميان، او د جناب علـی احمـد خـان د بګـرام کتابونـه وګوری.
۴۸. د ګوستاولوبون د هند د تمدن تاريخ، ص ۳۶۳
۴۹. فتوح البلدان د بلاذری ص ۴۱۰، ۴۳۷.
۵۰. مخزن افغاني
۵۱. محمدقاسم فرشته
۵۲. د مليون د افغانستان تاريخ
۵۳. تاريخ يميني
۵۴. راورتي مستشرق د رياض المحبت په حواله
۵۵. تاريخ يميني
۵۶. د کابل سالنامه ۱۳۱۴ د ښاغلی زمريالی ليک
۵۷. شيرمحمد خان په خورشيد جهان او سعادت خـان پـه خصـايل السعادت کښي خالوخان د محمود د عصر مشهور سردار ليکي.
۵۸. تاريخ بيهقي ص ۷ طبع رايل ايشيا ټک سوسايټي بنګال
۵۹. د سرپرسي سايکس د ايران لنډ تاريخ ، ص ۷۶

۶۰. د گوستاولوبون تمدن هند ، ص ۱۶۳ د اگرې طبع
۶۱. د هند تاريخ، ج ۲ ، ص ۲۶۷، د کلکتې طبع
۶۲. هسترې آف دی مرهتيز.
۶۳. کابل مجله، د ۱۳۵۴ کال کليکسون.